ګل شریف هڅاند خوست

# د طبابت د ډګر نوماند جراح الحاج محمد عثمان په حق ورسید

که فرشــونه د اتلس وي یا مانۍ وي د سرو زرو
یو کفن به ترینه یو سي ، نور به پاتې شی حیران
((ملنګ جان))



د شپیتمې لسیزې لومړی نیمایي وه. کورنی جګړې د یوې ورځې نه بلې ته زور اخیست.

زمونږ پلرنی ټاټوبی، په داسې حال کې چې نابللو سرو لښکرو مخامخ همدلته حضور درلود نړیوالو زور ځواکو تر منځ د وزلوبې په ډګر اووښتی وو. د دواړو لورو د جګړې سوند توکي سرجنګولو ته د کوتک په زور اړشوي هېوادوال ول.

د زور ځواکو له لوري د سپکو، درندو، زړو او نویو نه ازمویل شوو وسلو کارولو په پایله کې د مرګ ، ژوبلې کچه خورا لوړه شوي وه، چې د منلو او درملنې دروند پیټی یې د څلورسوه بستریز روغتون پراوږو پروت و. د دفاع وزارت مرکزي نشراتي ارګان ((سرباز)) ورځپاڼې د ادارې څخه د پورتني روغتون د وتلو ډاکترانو سره د مرکو کولو له پاره وګومارل شوم. په دې لړ کې د یوه ځوان ، په مسلک پوه او درمانوونکو لاسونو څښتن ډاکټر سره چې محمد عثمان نومیده مخامخ او د ورځپاڼې په مخونو کې مې د لومړي ځل له پاره د ده انځور او په اړه لنډه غوندې لیکنه خپره کړه. تردې دمه څه چې وروسته هم زمونږ تر منځ پیژند ګلوي نه وه. له دې پس مې په رسمي او نارسمي ناستو ،پاستو کې د یوه وتلي جراح په توګه درملنې ته د اړو هېواد والو په لاس نیوي کې د ده په اړه نیکي یادونې تر غوږو کیدې چې په پایله کې یې نه یوازې د ځان او کورنۍ ،بلکې د ټول تني شمله ور قوم شمله هسکه کړه.

نیږدې شل کاله وروسته مې د نوموړي سره بیا لیده ،کاته وشول. داځل مې عثمان د طبابت په برخه کې د بډایو تجربو په تر لاسه کولو سره لاپوخ، صمیمي او د سیمې، چاپیریال په اړه د پراخ نظر څښتن بیاموند.

هو ! پروفیسور دوکتور الحاج محمد عثمان یادوم چې د روان کال د مرغومې په لومړی اونۍ کې په ابدي خوب ویده شو او په دې توګه د سیمې او هېواد په کچه د طبابت د ډګر نوماند جراح د تل له پاره نابلد وطن ته لاړ.

پــروفــیسوردوکــتور محمد عثمان په ۱۳۳۲ هـ ش کال د تنیو په ایتمان کلي کې نړۍ ته سترګې سپړلې، په ۱۳۴۱ هـ ش کال په لومړني ښوونځي کې شامل او په ۱۳۴۸ هـ ش کال فارغ او د رحمان بابا په لیسه کې شامل او بیا په ۱۳۵۲ هـ ش کال له ذکر شوي لیسې په اعلی درجه فارغ شو.

په ۱۳۵۴ هـ ش کال د کابل پوهنتون د طب په پوهنځی کې داخل او په ۱۳۶۰ هـ ش کال د ماستر په درجه فارغ او په کار یې پیل وکړ.



نوموړی بیا په کال ۱۳۶۲ هـ ش کې د عمومي جراحۍ په څانګه کې د دوکتورا ترلاسه کولو په موخه پخواني شوروي ته واستول شو او په ۱۳۶۹ هـ ش کې یې نوموړی پروګرام په بري سره بشپړ، هېواد ته راستون او په څلورسوه بستریز روغتون کې د صدري جراحۍ څانګې دمسوول او ځوانو ډاکترانو د ترینر په توګه په دنده وګومارل شو.

د اروابناد جنازه د ۲۰۰۹م، د دیسمبر په ۲۷ مه له هند څخه راوړل شوه، د شیخ زاید پوهنتون په لمن د استاذانو فامیلیو په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

ابوالقاسم لاهوتي وایي:

گرمرد فنا شود به گیتي – هرگز اثرش فنانگردد.

که نن خدای ببنلی عثمان زمونږ په منځ کې په فزیکي ډول نه شته، خو په ماناوي لحاظ دی او له ده په میراث پاته شوي علمي پانګه به تل پناه نه منونکې وي. نوموړي د خپلې عملي درملنې تر څنګ یو لړ علمي مقالې او آثار لیکلي چې د ځینو یې په لاندې ډول یادونه کوو:

ترضیضات بطني په نامه کتاب،دناریوي پرایتونیت کمپلکس په نامه د دوکتورا تیزس،د افغانستان په اردو کې د جراحۍ خدمتونو ترتیب او تنظیم او د ناریوي پرایتونیت د وقایې او معالجې تدبیرونو په نومونو جلا ،جلا رسالې او په کابل پوهنتون کې د علمي کنفراسونو له پاره د یو شمیر مقالو لیکل دده علمي پاتې شوني دي.

ډاکتر محمد عثمان د یوه فاضل او عالم شخصیت په توګه یوازې د هېوادوالو په درملنه بسنه نه کوله،بلکې په دې برخه کې یې د زیاتو تدبیرونو نقشې تر لاس لاندې وي.

نوموړی یو له هغو ډېرو فعالو کسانو څخه وو ، چې خوست ته د شیخ زاید پوهنتون د امتیاز په اخیستلو ، لیږد ، فعالولو او هغه ته د کورنیو او بهرنیو سرچینو نه د مرستو په جلبولو کې یې نه ستړې کیدونکې هلې،ځلې وکړې او همدلته د ژوند تر وروستیو پورې د طب پوهنځی استاذ پاته شو.

دغه رازیې د حکیم تنیوال په نامه په خوست کې دمنځنیو طبي زده کړو انستیتیوت جوړ کړ چې همدا اوس پکې ۸۳ تنه محصلان پر زده کړو بوخت دي او شاوخوا پنځوس تنو د شمول غوښتنلیکونه ورکړي دي.

سربېره پردې د سیمې او سیدونکو ته د لاښو روغتیایي اسانیاوو برابرولو په موخه یې د ډېرو کلونو هلو ، ځلو په پایله کې له لندنه یو ښه سمبال روغتون منظور او په دې وروستیو کې یې د ودانۍ له پاره ځای هم په نښه کړی وو ،خو د ودانیزو چارو د پیل د مخه ورسره نیمګړي ژوند یاري ونه کړه او دنورو ډېرو سره یو ځای یې دا ارمان هم مخکې له وخته د ځانه سره ګور ته یو وړ.

## دوستان او همکاران د محمد عثمان په اړه :

سعدي شیرازي وایي:

سعدیا مرد نیکو نام نمیرد هـرگز

مرده آنست که نامش به نیکویی نبرند.

د خوست مرستیال والي محترم الحاج طاهر خان صبری:

((ډاکتر محمد عثمان سربېره پردې چې د سیمې او هېواد په کچه ډېر پوه،ماهر،د اوږدې مسلکي تجربې لرونکی جراح وو ، د اولس په نبض پوه یو ښه سلاکار ،زړور او با تدبیره شخصیت وو. په ډېرو خوابښینوونکو حالاتو کې به ده نه یوازې ځان نه بایللو ، بلکې فکري تمرکز او ثبات به یې پر ځای او نورو ته به یې ډاډ ګیرنه ورکوله.

دده ناخاپي او له وخته مخکې مړينې د علم، پوهې او په ټوليزه توګه طبابت په ډګر کې داسې تشه رامنځ ته کړه چې ډکول به يې نه يوازې ستونزمن او قيمتي وي، بلکې ډېر وخت به هم ونيسي)).

د شيخ زايد پوهنتون د طب پوهنځی استاد ډاکتر ذبيح الله احمدي:

((ډاکتر محمدعثمان د شهامت او جرئت سمبول وو. تل يې د علم او پوهې پلوي کوله چې ښکاره بيلګه يې د پوهنتون په راليږد او بنسټ په پياوړتيا کې بې ساری هلې، ځلې کيدای شي. دغه راز د بيلا بيلو سرچينو نه د مرستو ترلاسه کولو په موخه سفرونه يې د قدر او ستاينې وړ دی.

سربيره پردې نوموړی د حکيم تنيوال نيږدې دوست او هم غړی پاته شوی. د هغه په نامه د منځنيو طبي زده کړو انستيتيوت جوړول دده سره د تل له پاره د ملګري پاتې کيدو په مانا دی. ډاکتر محمدعثمان د طبيبانو کورنۍ د مشر غړي په توګه تل سالمې او جوړوونکې مشورې ورکولې. روح دې ښاد وي.))

د شيخ زايد پوهنتون د طب پوهنځي استاد پوهندوی ډاکتر بادشاه زار عبدالي:

((کلونه مخکې د کاري ورځې په پای کې د کلينيک ډېری کارکوونکي مې کورونو ته تللي ول.

د شپې يوه بجه وه چې نابيره يې يو ناروغ چې د ګيډې له درده سخت نا ارامه وو راوړ.

د فزيکي او لابراتواري کتنو پايلو وښوده چې رنځور اپنډيساتيس لري. سره له دې چې سمبال کلينيک، اړين طبي وسايل، انستيزيلوګ او نرس هم نه ول، خو که ناروغ عمليات شوی نه وای ، د مرګ ګواښ موجود وو.

نو د يوې ښځينه ډاکترې مې د مرستې هيله وکړه او خپله مې د موضعي انستيزی په مرسته ګيډه راوسپړله. دهغې په ليدو سره د همکارې حالت خراب او يوازې پاته شوم.

بله چاره نه وه. د مرستې له پاره مې د شپې ناوخته د ډاکتر عثمان څخه هيله وکړه.

سره له دې چې د ناکام، پهلوان خبره وه. په ځان مې زيات فشار راوړ. په يوازې توګه مې ډېر څه وکړل، خو نوموړي د انسان ژغورنې عالي احساس له مخې په بيړه ځان راورساوه او پاتې برخه مو په ګډه هڅو سر ته ورسوله او د الله په مرسته د ناروغ ژوند وژغورل شو.))

د عامې روغتيا رئيس ډاکتر اميربادشاه رحمت زی منګل:

((زمونږ د اميد سترګې تل د ډاکتر عثمان په لوري کږې وې او په ستونزمنو حالاتو کې مو لويه تکيه ګاه وه. د ورځو نه يوه ورځ د چاودنې د زړه بوګنوونکي پيښې په پايله کې زمونږ د ښاريانو وينې بهيدې او د روغتون د بيړنيو پيښو خونه او دهليزونه په وينو ليت، پيت وو.

د ټپيانو د شمير ډېرښت په سبب د روغتون نه بهر بيړنيو مرستو او لاس نيوي ته سخته اړتياوه. د نوموړي څخه مو د مرستې هيله وکړه.دی په داسې حال کې چې ډوډۍ يې هم نه وه خوړلې، د سترګو په رپ کې راورسيدو او د شپږو ساعتونو پرله پسې زيار په پای کې يې د الله تعالی په مرسته درې تنه مرګ کندې ته له لويدو بچ کړل)).

ډاکتر شيرزاد هڅاند:

((خدای بښلی ډاکترعثمان زمونږ د طب ډګر کارکوونکو له پاره پر پانو پټ او هسک چنار د سيوري په څيروو.

ما هغه هندي متل اوريدلی وو، چې وايي:

ډاکتر بايد د باز سترګې،د زمري زړه او ښځينه لاسونه ولري.

د نوموړي ترلارښوني لاندې د عملي کار په بهیر کې مې پورتنی ځانګړنې کتې، متې دده په وجود کې ولیدې. ده به هغه عملیات نیول او کول چې هر چا به ورته زړه نه شو ښه کولای.په درماني لاسو کې یې خدای تعالی برکت اچولی وو.رنځور ته به چې ورورسیدل، په سلو کې زیاته سلنه به یې له روغتیا برخمن کیدل.

هو ! په انګریزی کې متل دی وایي: (( مونږ تر هغه چې چینه نه وي وچه شوې د اوبو په ارزښت نه پوهیږو ) ).
اوس چې نوموړی زمونږ په منځ کې نه شته په قدر به یې هغه رنځوران ښه پوه شي چې د ډېرو اوږدو خرابو لارو ، راز،راز هوا حالاتو ، لګښتونو او پولیسو زورونو سره،سره پردیو هېوادونو ته دعلاج له پاره سفرونه کوي.

پښتو لنډۍ هم ده چې وایي:

*ارمان به هله راپسې وکړې – چې نه مې وینې ، نه مې غږ اورې مینه*

وروستي عملیات او د الله په مرسته د وروستي انسان ژغورل:

که ډېر ماهر طبیب هم وي بیا هم انسان دی او انسان تل نیمګړی موجود دی.

ډاکتر عثمان په دې وروستیو کې خپله هم ناروغ وو. د سختې تبې په سبب د څه کړل خو څه چې ان پاڅیدلی هم نه شو. اشتهایې نه درلوده او ځان یې ډېر بې حاله او ناتوان احساس کاوه.

دا مهال یې کلینیک ته تپي کس راوړی او نرس د تپي وخیم حالت ورته بیان او د ښکته کیدو هیله ځیني کوي. نوموړی ځواب ورکوي چې زما حال خراب دی که دوی بل چیرې لاړ شي. په دې شیبو کې د ځانه سره فکر کوي چې دا محتاج انسان دی او تاته یې تمه کړې، نو د انسان پالنې احساس یې اړ باسي څو حواس راجمع او بیړنۍ خونې ته راشي. دا داسې وخت دی چې پایوازانو تپي اخوا ،دېخوا ډېر ګرزولی او په ځواب کې یې ورته ویلي چې یا د صحراباغ روغتون او یا یې له هېواده بهر یوسئ. کله چې عثمان تپي ګوري،د کینې زنګانه مفصل یې ګولۍ خوړلی،د هډوکو پر کسرونو سربېره یې شریان(رګ) هم څیري وو. د تپي ځوان حالت بیخي وخیم وو. نبض او فشار یې نه لرل ، نو یې تپي ته وینه - سیروم او د ري امینشن بیړنۍ مرستې تر سره کړې.تپي ته د وروستي چانس درمل هم ورکړ شوی وو.عثمان چې د پاڅیدو توان نه درلود ، په ناسته یې دا سخت عملیات تر سره او د تپي دزنګانه خلفي رګ یې ترمیم کړ.

دې عملیاتو نیږدې درې ساعته دوام وموند. په پای کې د تپي حالت مخ په ښه کیدو شو.

نه یوازې یې ژوند د الله په مرسته وژغورل شو ، ان تردې چې پښه یې هم پرې نه شوه.

د ملنګ جان بیت دی:

ژوند خو یو څو ورځې وي،نوم شي تر قیامت پاتې
پس له مرګه چاته شي پېغور ، چاته صفت پاتې.

هو ! ډاکتر عثمان له ځانه د پېغور په ځای صفت ، بډایه علمي پانګه او غني مسلکي تجربې پرې ایښې چې دنوموړي دروزونکو له خوا د ده د غني تجربو او علمي پانګې په کارولو او نورو ته په لیږد سره به یې نوم تل نیک او ژوندی پاتې وي.